سلطان جان کلیوال
۲۰۱۹/۰۷/۱۰

# ژړا ژړا

وطن چې په ژړا وی، نـو دنیـا ژړا ژړا شی
دنیـا چې په ژړا شـی، نو عقبی ژړا ژړا شی

را لوېږی په سرو چې، هره ورځ د غضب کاڼي
او ښاخي ګرمي وینې، هره خوا ژړا ژړا شی

لوګي چې پورته کیږی، له ښارونو له بانـډو
درې ډکی له چیغو شی، هـوا ژړا ژړا شی

پرون می عاطـفی خبرې، واوریـدی قاتل نه
ممبرنه چې دروغ ووځی، نو ریښتیا ژړا ژړا شی

قدرت په سترګو رونددی،غراو باغ نه پیژنی
نشــه چې لیونی شی، تماشاه ژړا ژړا شـی

کابل چې اورکی سوزی، هره ورځ د چا په لمسه
افغان سره ملګرې، پښتونخوا ژړا ژړا شی

لباس د مسلمان کی، یزیدی عمل چې کیږی
مـکـې سره ملګـرې، کـ بلا ژړا ژړا شـی

وطنه! ستا به تن باندی، زخمونو ته چې ګوری
قـبرونو کی میرویس او احمدشاه ژړا ژړا شی.

جولای/۲/۲۰۱۹
ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ